مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۴/۲۷

لرغونې سيکې

ښاغلي عبدالنافع همت په خپل يوه طنز «شاهکار ادبي بهير» کې يوه ادبي غونډه انځوروي. په دې غونډه کې يو شاعر د خوشحال بابا غزل په خپل نامه کره کتني ته وړاندې کوي. د غزل مطلع ده:

هر ګناه چې په توبه په استغفار ځي
له هغه ګناه به څه په زړه کې دار ځي

د غونډې برخوال نه دي خبر چې دا د خوشحال خټک شعر دی نو ښې ډېرې نیوکې ورباندې کوي. دغه نیوکې تر ډېره د شعر محتوا او مضمون ته متوجه دي نه د شعر هنري اړخ ته، د ځینو ویناوالو خبرې بیخي له شعر سره تړاو نه لري. د طنز لیکوال له هغو کسانو سر ټکوي چې د خوشحال بابا په څېر د لویو شاعرانو پر شعر نیوکه کوي خو د نیوکې بل غشی يې هغه کسان په نښه کوي چې د کره کتنې په غونډو کې بې ځایه اوتي بوتي وایي.
شل یوویشت کاله مخکې مې همدغسې طنز په فارسي کې لوستی و. هغه طنز ظاهر ایوبي لیکلی و. په هغه طنز کې یو شاعر غواړي د خپلو شعرونو ټولګه چاپ کړي، هاغه مهال مطبعې آزادي نه وې، هر څه به د دولت له سانسوره تېرېدل او بیا به چاپېدل. دولت د آثارو د ارزونې او سانسور کمېټي لرلې. دغو کمېټو به اثر کوت او بیا به يې د چاپ اجازه ورکوله. شاعر د خپلې ټولګې په سر کې د مولانا جلال الدین محمد بلخي هغه غزل راوړی و چې وایي:

آب زنید راه را هین که نگار میرسد
مژده دهید باغ را بوی بهار میرسد

کتونکي ډله په نیوکو پیل کوي چې: زمور کوڅې ټولې خامې دي نو که اوبه په کې وشیندی، ختې جوړېږي او بیا چې یار راشي پښه به يې پکې ونښلي ... دوی ټول شعر دغسې ریشخندوي. په اخر کې شاعر وایي دا شعر زما نه دی، د مولانا دی. یو نقاد له بله پوښتنه کوي: مولانا يې لا څوک دی؟ هغه ورته وایي، زمور په کوڅه کې یو چرسي دی خلک يې مولانا بولي، همغه به یادوي. شاعر ورته وایي: دا لوی مشهور شاعر دی. اته سوه کاله پخوا تېر شوی دی. کتونکي ډله چې دا رنګه رسوا کېږي، په کتاب باندې ورته لیکي: څنګه چې ده د کتاب په پیل کې د بل چا شعر پټ کړی دی نو په نورو شعرونو يې هم باور نه دی په کار.
یوه ورځ په افغان ادبي بهیر کې یوه شاعر خپل شعر کره کتنې ته وړاندې کړ. شعر يې د وزن، قافیې، مانا او موسیقی په لحاظ هېڅ ستونزه نه درلوده خو خبرې يې ټولې زړې وې. ما هلته وویل دا د ځینو کلاسیکو شاعرانو د شعرونو په شان دی، خبرې يې ښې دي خو خوند په کې نشته او خوند ځکه په کې نشته چې هنر نه لري، شعریت نه لري. په مجلس کې ځینې ملګري راته په غوسه شول چې ته څنګه په کلاسیکو شاعرانو پورې لګېږې.
وروسته مې د استاد اسدالله غضنفر مقاله «د نسلونو کشمکش» ولوسته. دلته به د ښاغلي غضنفر د مقالې عمده ټکي راوړم:

«شاعران او ادیبان خپل مشران ستایي، په درانه نوم يې یادوي او په عین حال کې یو پټ کشمکش هم ورسره لري. دلته په ظاهره کې یو تناقض وینو. له یوې خوا ستاینې او له بلې خوا غندنې؟ داسې ولې کېږي؟ زما په نظر دا حالت دري علته لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو دا چې شاعران او د هنر خاوندان خپل هنر په مجرد ډول نه احساسوي بلکې له نورو اثارو سره په مقابله کې يې لیدلی او ارزولی شي. یو څوک خپل لیاقت صرف هغه وخت ویني چې له نورو سره په امتحان کې ګډون وکړي. که نور نه وي او امتحان نه وي، دی به خپل لیاقت څنګه ثابتوي؟
بله خبره دا ده چې هنر له هنرمنده نوښت غواړي خو نوښت که له دود سره غوټه نه وي، بې بنسټه تعمیر ته ورته کیږي چې درېدلی نه شي. نوښت هغه وخت احساسوو چې د دود په منځ او په څنګ کې يې ووینو. که دود نه وي نوښت بې معنا کیږي.
د دې تناقض بل دلیل د شعر او هنر له ماهیت سره غوټه دی. شعر د کلام له نا اشنا کولو زېږي. هغه خبره چې عادي را ښکاري، شعریت په کې نه وینو. د هر دوران شاعران کوښښ کوي چې په نوي طرز، نوي خبري وکړي، مګر د دوی خبري بالاخره اشنا غوندې شي او چې بل نسل راشي، د تېر نسل په شعرونو د عادي، غیرهنري او کلیشهیي خبرو ټاپه ولګوي. حال دا چې یو وخت به د دوی اوسنی نوي خبرې هم د تکرار په وجه عادي شي، رازونه به يې کشف او ښکلا به يې بربنډه شي او نور به د ذوق خاوندان د نااشنا خبرو په سترګه نه ورته ګوري.
د شعر او ادب په دنیا کې د نسلونو د کشمکش یو بل علت دا دی چې د هرې زمانې ارزوګانې، غوښتنې، مسایل، وسایل او مشکلات له بلې زمانې څه نا څه بېل وي. مورږ باید په دې هم ځان پوه کړو چې دوی په خپل وخت کې هغه کار کړی دی چې که مورږ په هغه وخت کې وای په غالب ګمان تر دوی به بهتره نه وو.»

***

د استاد غضنفر وینا راته واضحه کړه چې د پخوانو هنر لکه لرغوني سیکي دي. که اوس هماغسي سیکي جوړې کړې ارزښت به نه لري خو که پخپله لرغوني سیکي ولري، په خورا لوړه بیه به يې پلورلی شي.
اوس هم زمورږ کلال هماغسي لوښي جوړولی شي چې د یونانو باختري د زماني کلالانو به جوړول خو دا لوښي په موزیم که نه ږدول کیږي او څوک يې په لوړه بیه نه اخلي. د ښاغلي عبدالنافع همت په طنز کې د پرون هنر د نن په تله تلل شوی دی. که مورږ د تېرو هنر د خپل وخت په تله تلو باید په تله کې د زمان پانګ یا درې هم ورسره کېږدو که نه نو بې انصافي به مو ورسره کړې وي.
خو له دې ټولو خبرو سره سره، مورږ باید له چا څخه د انتقاد حق وانه خلو. زمورږ د روزنې په میتود کې دغه ستونزه شته چې د پخوانو هر څه سم ګڼو او په پټو سترګو يې منو. همدا چې یو څوک مو لوی وبالله بیا نو هغه راته کامل انسان ښکاري، هغه له خطا مبرا ګڼو خو واقعیت دا دی چې په دې دنیا کې کامل نشته.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ